# مالي زده کړه

## خپل بېلونه څرنګه تادیه یا ادا کړئ

**د بېلونو د تادیې یا اداکولو څرنګوالئ یا طریقه د وخت او پیسو په سپما، له اضافي فیس ورکولو څخه مخنیوی او د بیلونو د تادیې د یو معتبره سرچینې یا ریکارد ساتلو په برخه کښې له تاسو سره مرسته کولی شي.**




تاسو کولي شئ له لاندې لارو څخه په استفادې خپل بېلونه تادیه کړئ:

- بانکی تعرفه (ماني آردر)
- په آنلاین یا دموبایل له لارې د بېلونو تادیه
- یو وار مصرف کارتونو له مخې (پرې پید کارد)
- بانکی تعرفه (ماني آردر)
- په آنلاین یا دموبایل له لارې د بېلونو تادیه
- یو وار مصرف کارتونو له مخې (پرې پید کارد)
-

د داسې یوې طریقې غوره کول چې له مخې یې تاسې په دوامداره توګه خپل بیلونه تادیه کړئ وی، ستاسې د مالي اعتبار یا کریډیت د لوړیدو یا ښه والي سبب ګرځي او د تادیې سرچینې یا ریکارد ساتلو برخه کښې درسره مرسته کولی شي.

هره طریقه ښه والی او نیمګړتیاوي لري. د مثال په توګه، که تاسو وغواړئ چې خپل بیل په نغدو پیسو ادا کړي نو باید د بیل د تادیې ځای ته خپله لاړ شی چې ستاسو د وخت، د موټر تیل یا د تګ راتګ مصرف سبب ګرځي. که تاسې خپل بیل د بانکي حساب له لارې په اتومات ډول ورکړی، تاسې به د وخت سپما وکړئ، خو باید پخپل بانکی حساب کې کافي اندازه پیسې ولرئ چې بیل تادیه شي کنه نو بیل به مو ادا نشي او یا په حساب کښې د کافي پیسو د نه شتون له امله بانک ته اضافي فیس ورکړی. که د کریډت کارت څخه خپل بیل ادا کړي او د هرې میاشتې په آخر کې د کریډت کارت ټول پور یا قرض ورنکړئ نو تاسې مجبور یاست سود ورکړی، چې ستاسې د قرض د ډیرېدو سبب ګرځي.

## څه باید وکړی.

- **د بیل د تادیه کولو ټولې طریقې ولولئ.**
- **•د هرې طریقې څرنګوالی په نظر کې ونیسئ.** بعضې طریقې کیدای ستاسې په ګټه وی او بعضې ستاسو په ګټه نه وي، ستاسو لپاره څه مهم دي.
- **کومه طریقه ستاسو په ګټه وي هغه د بیلونو د تادیې لپاره غوره کړی.** ضرور نده چې خپل ټول بیلونه د یوې طریقې څخه په استفادې تادیه کړی. مثلاً، خپل د کور کرایه یا قرضه د خپل بانکي حساب څخه په اتومات ډول ورکړئ خو د نورو بیلونه د ادا کولو لپاره په جلا جلا توګه نغدي پیسې ورکړی

## د بیلونه د تادیې یا اداکولو طریقه کولی شي ستاسو د وخت او پیسو په سپمولو کښې مرسته وکړي

1. د بیل د تادیې د هرې طریقې ګټې او نیمګړتیاوې و ارزوئ.
2. هره طریقهچې ستاسو په آند سمه ښکاري په اړه یې خپلې پوښتنې ولیکئ.

| | ګټې | نیمګړتیاوې | ستاسو پوښتنې |
|---|---|---|---|
| نغدې پیسې | • •استعمال او پوهیدل یې آسانه دی.<br>• د یو وار مصرف کارت یا مانی آردر سره په توپیر ډیری وخت فیس نه ورکوی. | • د بیلونه د تادیې لپاره باید یو کس حاضر وي.<br>• کچېري رسید درسره نه وي یایی ورک کړی، نو د تادیې ثبوت یا سند ښودل ستونځمن وي<br>• کیدلی شي درنه غلا شي. | |
| چک | • د بانکي حساب له جوړولو وروسته هوسا یا آسوده وي.<br>• د پوست له لارې لېږل کیږي.<br>• کچېرې د تادیې په اړه ستونځه رامنځ ته شي د ثبوت لپاره ښه او آسانه سند دی.<br>• په بانکي حساب کښې پیسې خوندي وي. | • د بانکي حساب لرل اړین دی، که تاسې منفي یا ناسم بانکي تاریخچه ولرئ نو نه شي کولی چې بانکي حساب پرانیزئ.<br>• که مو په حساب کښې کافي پیسی نه وي چې په چک کښې لیکل شوی مقدار ادا کړي، کیدای شي د اضافي فیس ورکړئ.<br>• کیدای شی په پوست کې ورک شي. | |
| کریدت کارت | • د تلیفون یا آنلاین له لارې بیل ادا کولی شي.<br>• د یو وار او یا بیاځلی طریقې په جوړولو سره خپل بیلونه په وخت سره تادیه کولئ شي.<br>• کچېرې د تادیې په اړه ستونځه رامنځ ته شي د ثبوت لپاره ښه او آسانه سند دی.<br>• ستاسو د اجازې یا پوهې پرته مصرف یا بیل ادا کولو په صورت کښې خوندي دی یعنې خپلې پیسې بیرته ترلاسه کولی شئ. | • د کریدت کارت استفاده تاسې پوروړي کوي، په دې مانا ده چې تاسو له بانک څخه پور یا قرض اخلئ.<br>• کچیری د کریدت کارت پور په مکمله توګه ورنګړی نو تاسې اړ یاست چې بانک ته سود ورکړئ.<br>• د کریدت کارت پور پخپله یو اضافي بیل ګرځي او تاسې اړ یاست چې هغه هم د میاشتنې دورې په اخر کښې ادا کړئ. | |
| دیبیت کارت | • آسانه ده او وخت سپمولی شئ.<br>• د یو وار او یا بیاځلی طریقې په جوړولو سره خپل بیلونه په وخت سره تادیه کولئ شي.<br>• کچېرې د تادیې په اړه ستونځه رامنځ ته شي د ثبوت لپاره ښه او آسانه سند دی. | • د کریدت کارت استفاده تاسې پوروړي کوي، په دې مانا ده چې تاسو له بانک څخه پور یا قرض اخلئ.<br>• کچیری د کریدت کارت پور په مکمله توګه ورنګړی نو تاسې اړ یاست چې بانک ته سود ورکړئ.<br>• د کریدت کارت پور پخپله یو اضافي بیل ګرځي او تاسې اړ یاست چې هغه هم د میاشتنې دورې په اخر کښې ادا کړئ. | |

| | فواید | اضرار | پرسشهای من |
|---|---|---|---|
| دیبیت کارت | • پوهیدل یې آسانه دی.<br>• د پوستې له لارې لېږل کیدای شي.<br>• کله کله د چک په پرتله ډیر خوندي وي ځکه ستاسو د بانک معلومات په کښې نه لیکل کیږي. | • د ماني آردر د جوړولو له امله هوساینه یا آسانتیا یې کمه ده.<br>• د ماني آردر جوړول مصرف لري.<br>• د ستونځې په وخت د تادیې ثبوتول ستونځمن وي مګر دا چې تاسو سره د ماني آردر رسید او د تادیې رسید موجود وي.<br>• کچېرې ورک شي بیرته پیدا کول یې ګران دی. | |
| د تلیفون یا آنلاین/ انترنیت له لارې د بیل تادیه | • آسانه ده او وخت سپمولی شئ.<br>• له بانک، د مالي اعتبار یا کریدیت ورکونکي اتحادیې یا یو وار مصرف کارد حساب سره (ستاسو د حساب له لارې په انلاین یا موبایل تیلیفون له لارې او یا د هغې ادارې چې بیل درلېږې د ویبسایت له لارې) د بیل د ادا کولو طریقه جوړیدلی/ تنظیمېدلی‌شي.<br>• د یو وار او یا بیاځلی طریقې په جوړولو سره خپل بیلونه په وخت سره تادیه کولئ شي.<br>• •کچېرې ستاسو د بانک، د مالي اعتبار یا کریدیت ورکونکي اتحادیې یا یو وار مصرف کارد حساب له لارې جوړ شوی وي، تاسې کولي شی د معین اندازې څخه د پیسو د کمیدو په اړه خبر/اطلاع تر لاسه کړئ.<br>• ډیری وخت د موبایل/تلیفون اپلیکیشن له لارې بیل تادیه کولی شئ. | • پوهیدل او جوړل یا تنظیمول یې وخت غواړي.<br>• د بیل د تادیې په نېټه په حساب کې د کافي اندازې پیسو د نشتون له امله اضافي فیس او یا د بیل د نه تادیه کېدلو د خطر شونئ دی.<br>• کیدای شي ستاسې معلومات غونډ او ستاسې د خوښې خلاف له نورو سره شریک کړئ شي.<br>• تلیفون کیدای شی ورک شي او نور خلک ستاسو مالي معلوماتو ته لاسرسی پیدا کړي.<br>• کچېرې د عامه وای فای انترنت له لارې د بانک اپلیکیشن وکاروئ کیدای شی ستاسو مالي او نور معلومات غلا شي.<br>• بعضې بانکي حسابونه او یو وار مصرف کارتونه د بیاځلی یا وامداره توګه د بیل د تادیه کولو د طریقي تنظیم اجازه نه ورکوي. خو تاسې کولی شئ د بیل لیږونکي د ویبسایت له لارې د بیل د تادیې طریقه تنظیم کړی. | |
| یو وار مصرف کارت | • آسانه ده<br>• خپل بیلونه په انلاین یا موبایل تیلیفون/اپلیکیشن له لارې ادا کولی شئ.<br>• کچېرې د تادیې په اړه ستونځه رامنځ ته شي د ثبوت لپاره ښه او آسانه سند دی. | • کیدای شي د بیل د تادیې لپاره فیس ورکړی، چې مقدار یې معمولاَ د کارت په هوکړه لیک کښې ذکر وي | |